**د مبارکۍ پیغام**




د افغان امنیتی او دفاعی ځواکونو د ملی ورځې په اړه د شهیدانو او معلولینو چارو د سرپرست وزیر پوهنمل حمید الله فاروقی د مبارکۍ پیغام

د افغانستان د وسله والو ځواکونو زړورو او پیاوړو سرتېرو!

تاسې، ستاسې درنو کورنیو او د افغانستان مبارز ولس ته د (کب د نهمې) د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ د ملي ورځې مبارکي وایم.

پرته له شکه، چې د افغانستان وسله وال ځواکونه د لوړ مورال او هېوادني احساس خاوندان دي او د سیمې په کچه یو بې سارې ځواک ګڼل کېږي. د هېواد، خاورې، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د ولس ساتنې او دفاع په مقدسه جګړه کې یې سرښندنې او اتلولۍ د ډېرې ستاینې او قدرداني وړ دي.

افغان سله وال ځواکونه زموږ ویاړونه دي، چې د خپلو ملي ګټو او ملي ارزښتونو د دفاع په لاره کې ترهګرو او تروریزم سره لومړۍ کرښه کې په شدیده جګړه بوخت دي او باوري یو، چې د خدای ج په فضل، خپل لوړ مورال او د ولس په دعا به بریا د دغو اسلام دوسته ځوانانو په برخه وي.

د افغانستان ټولو خلکو ته پکار ده، چې د ژغورنې له دغو سپېڅلو پرښتو بشپړ ملاتړ وکړي او له دښمن سره په سپېڅلې جګړه کې یې یوازې پرنېږدي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د تېر په څېر ژمن دی، چې د امنیتي او دفاعي ځواکونو نه هېرېدونکو قربانیو او سرښندونو ته د درناوي په ویاړ یې د شهیدانو کورنیو او معلولینو د هر اړخیز ملاتړ تر څنګ حقوق او امتیازات پر خپل وخت ورکړي، اولادونو ته یې د زده کړو او د ژوند نورې اسانتیاوې او امکانات برابر کړي.

د سرلوړي افغانستان په هیله!

ژوندي دې وي افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه!